دویمه کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

# لږ تر لږه زه خو خوندي يم!



**ليکوال:** اليسون بايرنس
**انځورگر:** اليسون بايرنس

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

At Least I'm okay (Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



اوږی، غرنۍ اوزه، په شاهي کوټ کې اوسېده.

شاهي کوټ يو ښکلی هېواد و. دا د بحر له غاړې نيولی تر ځنګلونو، او له درو نيولو تر غره پورې غځېدلی هېواد و.



ځاروو له شاهي کوټ سره مينه درلوده.

په دې هېواد کې د سوی او هوسۍ لپاره واښه وو، د مارغانو او ميلوګانو لپاره د ګېډې د مړولو لپاره حشرې وې، او د تمساحګانو او وحشي پيشوګانو لپاره کبان وو. د هر چا لپاره رڼې، او سړې اوبه وې.



اوړۍ له ټولو پورته د یوه غره په سر کې اوسېده.

د غره په ډېرینو لارو ښکته او پورته تګ راتګ اوړد او ستونزمن و. هغه له نورو ژوو سره ډېر وخت نه تېرولو، او ځانله اموخته شوې وه. البته هغې دا یوازېتوب خوښولو – د هغې چې څه او کله چې به خوښ وو، همغه یې کولای شول.


کله کله به اوړۍ فکر کاوه چې دا نور یو څه کم عقلان دي. اوړۍ به ځان سره فکر کولو. *"دوی ولې تل باید هر څه یوځای ترسره کړي؟ آیا دوی پخپله په یوازې ځان ویالې ته نه شي تللی؟ زه خو تللی شم،"*.

ټولو ښاروو د چارو سر ته رسولو لپاره خپلې د خوښې طریقې درلودې. خو اوړۍ فکر کاوه چې د هغې طریقې تر نورو غوره دي.



کرار کرار د شاهي کوټ اقلیم په
بدلېدو شو، خو ځآروو ورته
چنداني پاملرنه نه کوله.

یوه ورځ، نهنګانو، چې د کال زیاتره
برخه یې د شاهي کوټ په اوبو کې
تېروله، اعلان وکړ چې هغوی یو
بل ځای ته د اوسېدو لپاره ځي.



شمشتیو پوښتنه وکړه، ”ولې؟ دا
خو ډېر ښایسته ځای دی؟“

نهنګانو په خوب کې وویل، ”دا اوبه
مونږ د پاره یو څه تودې شوې دي.
مونږ اړ یو چې لېرې شمال ته چېرته چې
اوبه سړې دي، ولاړ شو.“

نهنګانو په سړو اوبو کې اوسېدل
خوښېدل او د شاهي کوټ اوبه اوس
ډېرې تودې شوې وې.

د شمشتيو به تل هغه سندرې يادېدې چې نهنګانو به زمزمه کولې. خو دوی یې ډېر په کيسه کې نه شوې. شمشتيو به فکر کاوه چې، ”لږ تر لږه زه خو خوندي يم.“
اوړۍ به له ځان سره بنګېده، ”بې، بې“. ”زه يې څه کوم چې ګرمي وي که يخني! دوی بايد زما په شان وي.“

نهنګان ډېر ژر د خلکو له ياده ووتل. خو يوه ورځ، شمشتيو خپله کډه باروله پيل کړه او روان شول.

وحشي پيشوګانو پوښتنه وکړه، ”ولې؟“. ”تاسې خو تل دلته خوښ معلومېدلئ.“
شمشتيو، چې په شګلن ساحل کې به يې خپلې هګۍ اچولې، په ځواب کې وويل، ”مونږ د پاره ډېره کمه شګه پاتې ده.“
وحشي پيشوګانو پوښتنه وکړه، ”نو څه شوه دا شګه؟“

ستر، بوډا شمشتۍ وويل، ”څومره چې مونږ پوهېږو شګه د سترې ډبرې پورې وه.“ ”خو، اوس هغه ستره ډبره دومره ستره نه ښکاري – اوبو نژدې ټوله ډبره پټه کړې ده.“

وحشي پيشوګانو فکر وکړ، ”*د شمشتيو لپاره د خواشينۍ خبره ده. خو لږ تر لږه زه خو خوندي يم.*“





اوړی ولیدل چې شمشتۍ ولاړې او فکر یې وکړ، *که شکه د اوبو لاندې شي، نو ما ته څه تاوان کوي؟ شمشتۍ باید د استوګنځي د انتخابولو پر مهال چې چېرته باید استوګن شي، زما په شان له ځیرکتیا کار اخیستی وی.*

اوړی د ګېډې د مړولو لپاره د وښو په لټه کې شوه او ټوله کیسه یې هېره کړه.



بیا وحشي پیشوګان ولاړل. هغوی نور نه شو کولای په ویاله کې ښه کبان ونیسي. په ویاله کې اوبه ډېرې کمې شوې وې.

هوسۍ فکر وکړ، اخ، د وحشي پیشګانو لپاره څومره دردوونکې خبره ده. خو لږ تر لږه زه خو خوندي یم.

اوږۍ په ویاله باندې، چېرته چې هغې اوبه څښلې، نظر واچاوه. ”وحشي پیشوګانې ډېرې کلکې دي، خو دوی هیڅ کله زما په څېر کلکې کېدای نشي.“



یوه ورځ یو ډېر نااشنا شي ته د اورږۍ پام شو.

هر کال به د هغې په غر باندې واوره ویلې/اوبه کېده، کټ مټ د یخ د مکعب په څېر، او د هغې ویاله به یې ډکوله. خو اوس د واورې مقدار ډېر کم شوی و.

اورږۍ ډېره باوري نه وه او فکر یې وکړ، کېدای شي دا به نن دا ډول ښکاري.



خو، بیا شاهي کوټ ته نااشنا حیواناتو ته مخه کول پیل کړل.

هر چا له غواګانو سره د دوستانه اړیکو درلودلو هڅه کوله. خو نوي راتلونکي حیوانات یې په کیسه کې نه وو – هغوی به په شوق سره څرېدې او په مزه مزه شخوند به یې وربانده وهلو. او غواګانې ډېرې زیاتې وې!


## لږ تر لږه زه خو خوندي یم!

اوږۍ او ملګري يې چې په شاهي کوټ کې اوسېږي، زمونږ په څېر، د اقليم بدلون سره مخ دي. انسانان په زياته اندازه شين کوريز ګازونه (GHG) سوځوي – له سکرو او تېلو څخه کاربن ډای اوکسايډ منځته راځي. کله چې مونږ وني پرې کوو، کاربن ډای اوکسايډ هم خپرېږي، بيا ميتان ګاز چې په فارم کې ساتل کېدونکې غواګانې خارجوي، او ورپسې له موټرونو او نورو نقليه واسطو څخه نائټرس اوکسايډ ګاز خپرېږي.

شين کوريز ګازونه په اټموسفير کې شاملېږي او د نړيوالې تودوخې د منځته راتګ لامل کېږي او اقليم بدلوي. دا چې د شين کوريزو ګازونو په واسطه په اټموسفير کې ډېره تودوخه بنده پاتې کېږي، په قطبونو کې يخ اوبه کېږي او د بحرونو سطحې لوړېږي.

دا ټول په دې مانا دی چې موسم د نه وړاندوينې وړ ګرځي – په دوبي کې هوا سړه وي او په ژمي کې هوا توده وي، بارانونه د پخوا په څېر په خپل وخت نه اوري. او همدا د اقليم بدلون دی.





د وښو په ورکېدو سره هوسۍ خوښې نه وې. کرار کرار، هوسیو د خپلې خوښې وښو د کافي مقدار موندلو لپاره له شاهي کوټ څخه بهر وتلو ته اړ شوې.

*امممم... هغوی باید وګوري چې زه کله کله څه خورم، اوږی فکر وکړ. کله کله زه په ډېرو باندې د زرغونېدونکو وښو (Lichens) خوړلو ته اړ کېږم. خو هېڅ خوند نه کوي.*

اوږی تر څو چې یې وسه وه، په خپل غر باندې پاتې شوه، خو زیاتره وخت به یې د خوراک یا څښاک لپاره ډېر څه نه موندل.



او په پای کې، وړې او ترېږې اوړۍ په سخته غرنۍ لار راکښته شوه. هغې د غونډیو نه یو څه واښه وخوړل، خو دا هغه واښه نه ول چې د هغې خوښېدل.

هغې په دره کې یوه ویاله ولیدله، خو د اوبو خوند هغسې خوندور او مزه دار نه و چې دا ورسره بلده وه.

اوس اوړۍ پوهه شوه چې ولې نور حیوانات له دې ځایه تللي وو – مهمه ده چې هغه خواړه وخوړل شي چې ستا مزاج سره برابر وي او ښنګ ته اوبه ولرې.



هغه حیونات چې دې پېژندل هغه وخت له شاهي کوټ ځخه ووتل کله چې هغوی په اسانۍ سره د خپلې خوښې خوړو په میندلو کې پاتې راغلل یا کله چې د ویالې په یو ختېن لښتي باندې د بدلېدو له امله هغوی ډېر زیات تږي شول یا کله چې د هغوی د ونو کورونه د نورو خلکو لپاره د کورونو د جوړولو لپاره پرې شول.

اوړی او ملګرو یې دا فکر کاوه چې ***لږ تر لږه زه خو خوندي یم*** کله چې بدلونونو پر نورو باندې اغېزه کوله. کله چې بحرونه تاوده شول، نهنګان د لا مناسبو کورونو د میندلو لپاره کډه شول. شمشتۍ، هوسۍ او اوړی لږ هم اندېښمن نه شول.

خو، وروسته هغوی دا منلو ته اړ شول چې ***اوس زما نوبت دی.***

اوړی دا منلو ته اړ شوه چې ځنګه ملګري درلودل یوه اړتیا ده. هغې وپتیله چې د نورو ملګرو میندلو پسې به وزي.



## د اقلیم د بدلون له امله:

کله چې ځنګلونه پرې کړل شي، دا په اتموسفیر کې د کاربن ډای اوکسایډ د کچې د لوړېدو لامل کېږي. حیوانات هم خپل کورونه، یعنې ځنګلونه، له لاسه ورکوي، او دوی اړ دي چې د خوړو په لټه کې لېرې پرتو سیمو ته مخه وکړي.

بزګران د نامنظمو اورښتونو له کبله نه شي کولای خپل فصلونه په سمه توګه وکري. زیاتره وخت، دوی تخمونه کري، خو باران نه اوري، او فصلونه یې زرغون نه شي. د نه باران یا کم باران او د فصلونو د نه زرغونېدو له امله د ام یا چاکلیټ پرته د نړۍ تصور وکړئ!

د نه وړاندوینې وړ موسم پر انسانانو هم اغېزه کوي. د بېلګې په ډول، په توپانونو، سیلابونو، یا وچکالیو کې خلک خپل کورونه له لاسه ورکوي.

په اتموسفیر کې ککړتیا زمونږ روغتیا باندې ناوړه اغېزه کوي او مونږ هر وخت ناروغه کېږو.



## لاربښودونکې پوښتنې

1. د اقليم بدلون تعريف کړئ؟ د دې مسئووليت د چا/څه په غاړه دی؟
2. په شاهي کوټ کې د حيواناتو په انواعو باندې د اقليم بدلون څه ډول اغېزه کړې ده؟
3. آيا د اقليم بدلون ستاسو په ژوند يا ستاسو په هيواد، چېرته چې تاسو اوسېږئ، باندې اغېزه کړې ده؟
4. د نړيوالې تودوخې د وضعيت د بدتر کېدو د مخنيوي لپاره مونږ څه کولای شو؟
5. د اقليم بدلون به په راتلونکې باندې څه ډول اغېزه وکړي؟